# فضل غني غني

## ازاد اشنغرے

د وړوکي اختر په دوېمه ورځ د پښتو ژبې شاعر اديب او دانشور فضل غني غني په ولي باغ کښې شوې بم چاودنه کښې په حق ورسېد او د شهيد په لويه مرتبه او نوم و نمانځلے شو، غواړم چې د محترم فضل غني غني د ژوند او زيارونو په باب څو کرښې وليکم.

د فضل غني غني زيات ليکونه خو په "انجام"، "شهباز"، "غنچه" او يا په خپله د "پښتون" په پاڼو کښې خوندي دي، د هغوي نظم، نثر، تبصرې، تجزيې او د قام پرست سوچ او فکر انګازې خو زياتې د "پښتون" په پاڼو کښې د خپل عقل، شعور سپېڅلتيا او صداقت ګواه دي.

دې کښې شک نشته چې د هغهٔ په څلوېښت کلن قلمي، ادبي او سياسي سفر کښې چرته هم هغهٔ دا نهٔ ده محسوس کړې چې د خپل ځان د رابښکاره کولو او معرفي کولو دپاره د کتابونو چاپ کولو يوه تندوتېزه سلسله وچلوي.

هن! هغه د کتابونو په خصوصيت سره د پښتو د کتابونو او مجلو په پېسو د اخستو او بيا ټکي په ټکي د هغو د مطالعه کولو ډېر ګرمجوش خريدار او لوستونکے پاتې شو، کله کله په وقفه وقفه به ئې خپل منظوم او منثور معروضات هم قلم ته سپارل او چاپ کول.

فضل غني غني په کال **1954** کښې په تنګي کښې د ارواښاد خدائي خدمتګار حاجي فضل اکبر قادري (متوفي **1997**) کره پېدا شوے ؤ چې د اشنغر تنګي د نومیالي ولي الله قطب عالم حضرت سېدنا ګنبد ميا صاحب په خصوصي مريدانو کښې



شامل ؤ او د سلسله قادريه شريف په فيوضاتو منور ؤ. په روحاني لاره د تګ سره سره د قامي آزادۍ په هر پړاؤ کښې د ستر باچا خان بابا سره په سياسي مبارزه او مجاهده کښې مشغول او تر اخري سلګۍ په دغې هوډ کلک او قائم پاتې شو.

په کال **1970** کښې ئې د خپل کلي تنګي د هائي سکول نه ئې په ښو نمبرو لسم جماعت پاس کړو نو بيا ئې ډګري کالج چارسده کښې د ايف ايس سي د طالب علم په حېث داخله واخسته او په دوه څلور نمبرو د مېډيکل کالج نه پاتې شو، ګرېجوېشن کښې ئې په ټوله صوبه کښې اول پوزيشن واخستو او ډېر زر ورته په بېنک کښې د جونئير آفسر په حېث نوکري ترلاسه شوه خو خپل فطري شوق او شعوري تړون د هغۀ د لاس نه قلم ونۀ ترورلو او هم دغه وجه وه چې پښتو ادبياتو کښې ئې اېم، اې په پرائيوټ توګه په ډېر ښۀ شان سره وکړه.



فضل غني غني د غني خان سره

فضل غني غني يو شاعر ؤ او د خورو ورو اخبارونو، مجلو او هفت روزه رسالو نه د فضل غني غني کلامونه راغونډول او هغه لکه د قلمي نسخې خوندي کول ما په خپله ذمه اخستي وو، وجه ئې دا وه چې په ژوند هم هغۀ د دې قسمه جنجالونو نه ځان ژغورلے ؤ.

چرته او کله هغۀ څۀ؟ او په څۀ ليکل کړي او په کوم اخبار يا رساله کښې ئې د اشاعت ښکلا موندلې ده د دې خبرو ئې ډېره پروا نۀ ده ساتلې.

د پېښور رېډيو له به ئې "خوند رنګ" پروګرام ليکلو کوم چې ډېر مقبول شو، دغه پروګرام به ګل او شاهين پېش کولو، اخبارونو او مجلو ته ئې د "زړه نوې" په نوم کالم ليکلو چې قلمي نوم ئې بې باک ليکلو يو خوندور اسان، عام فهم انداز ئې لرلو او د ادبي صحافت په زړۀ پورې عکاسي ئې کوله. دې نه علاوه چې تحقيقي مقالې او مضامين يا غزلې او نظمونه ئې چاپ دي، د هغې سره د هغۀ نوم فضل غني غني شائع شوے دے او د دې هېڅ يو چاپ شوي مضمون يا مقالې ئې بيا ساتنه او څوکيداري نۀ ده کړې. دا ټول هر څۀ راقم الحروف ځکه راټول کړي شول چې په يو کور کښې د هغۀ د فکر انګازو نه ما هم فائده پورته کوله، د کور نورو افرادو هم دغه مطالعه کول خو د هغې د حفاظت او ساتنې فکر يو ما ځکه وکړو چې دا

جراثیم د هغوي نه زیات ما ته پورې شوي وو او چې په فارغ وخت کښې د هغوي په کتابتون کښې په شېبو شېبو لګیا وم هغه ټول هر څۀ به زما د نظره تېرېدل نو ما کښې هم دغه اثر په پوره ډول محسوس کړے شو او چې کله ما دغه ټول مواد په ترتیب په خپل قلم سره ولیکل او قلمي نسخه مې ترې نه جوړه کړه نو هغه په دې خفه نۀ ؤ بلکې زما په دې خوارۍ ئې ماله ډېر شاباسے راکړو او ما ته ښۀ یاد دي چې د ټولو نه اول ئې ما له یو قلم او ښائسته د سور ټائټل کاپي په انعام کښې راکړي وو.

د اخبارونو ډکې ډکې پېټۍ مې چاڼ کړې د "پښتو"، "پښتون"، "اولس"، "کاروان"، "اباسین"، "انجام"، "هېواد"، "وحدت"، "شهباز" او نورو بیلابېلو اخبارونو او مجلو پاڼې مې د نظره تېرې کړې او چې څۀ نظم یا نثر مې د نظره شوے دے نو خوندي کړي مې دي.

د جوش او حرارت نه ډک انقلابي نظمونه او د معروضي حقائقو نه ډک د تغزل په پسته او ريښمي ژبه لیک غزلونه دا ټول لفظونه د فضل غني غني مونږ سره قیمتي سوغات او امانت پراتۀ دي. دا لفظونه چې نن ورځې ګورم نو دا د فضل غني غني په ژوند هم لکه د خُوږ لاس ساتلي وو او په دې طمع ووم چې چرته خو به هغه د دې د کتابي اشاعت د پاره ځان تیار کړي خو فضل غني غني په حال کښې اوسېدونکے انسان ؤ، د هغۀ سیاسي فکر ډېر پوخ ؤ او د هغې غټه وجه دا وه چې هغۀ د ستر فخر افغان باچا خان، خان عبدالغني خان او خان عبدالولي خان په محفلونو کښې ناسته کړې وه او د هغوي د پوهې او زېرکۍ نه ئې ډېره استفاده کړې وه، کۀ هغۀ ولي خان، غني خان، بي بي یا په اسفندیار خان او سنګین خان ګران ؤ نو د هغې غټه وجه د هغۀ حقیقت پسندي وه او حقیقت پسندي یو داسې شے دے چې یو انسان بل انسان ته ډېر نزدې کوي.

فضل غني غني په **15** مې **1954** کښې د یو خدائي خدمتګار په کور کښې سترګې پرانستې وې او په **2** اکتوبر د جمعې په شپه **2008** کښې ئې د ولي باغ خونړۍ بم چاودنه کښې دغه سترګې د ټول عمر د پاره پټې کړې. ټول عمر ئې د خپلې ژبې، خپل قام، خپلې خاورې او د دې د ترقۍ او سوکالۍ خوبونه ولیدل، د خندا په ډکه خلۀ د مینې، اخلاص او خدمت په کالو آراسته د ډېرو خوبیو او صفتونو مالک ؤ.

په دغو کښې بردباري، صبر، استقلال، انکساري، د غریبانو سره لاس امداد کول او د بې وسه قلمکارو او شاعرانو مالي مرسته داسې اوصاف دي چې هېچرې د هېرېدو نه دي. په سیاسي ډګر د ټینګ پاتې کېدو ئې د دې نه غټ ښکاره دلیل نور څۀ کېدے شي چې په ښۀ بده پوهه شوے ؤ نو تر اخري سلګۍ ئې د سرې جنډې د لاندې تېر کړو او د خپل خدائي خدمتګار پلار پښتو ئې پیکه کېدو ته پرې نۀ ښوده.

غني شهید دے د دنیا ګلونه ئې نۀ دي پکار
د جنت حورو ورته ایښي په کمځو ګلونه

(مضمون لیکونکے د فضل غني غني ورارۀ او زوم دے).

# د فضل غني غني کلام

نـن کـهٔ زمـا پـه نصیب دار دے څـهٔ خبـره نـهٔ ده
سبا لـه وار پـرې د اغیـار دے څـهٔ خبـره نـهٔ ده

د مرګـه پـس ئې د ډېـوال سـېوري تـه کېښـودمه
زمـا قاتـل هـم زمـا یـار دے څـهٔ خبـره نـهٔ ده

مونږ لېونو ته چې پـه لارو کښې ازغي ئې شـېندل
لـه هغـو هـم پـاتې بهـار دے څـهٔ خبـره نـهٔ ده

کـهٔ د یـو بـل د غوښـو اوړي یـو مړېـږو پـرې نـا
دا خو زمونږ زیست او روزګار دے څهٔ خبره نهٔ ده

کهٔ سر ئې بائیلو ځان ئې بائیلو پت ئې وګټلو
د پښـتنو دغـه بېوپـار دے څـهٔ خبـره نـهٔ ده

د هغـه بُـت پـه یـو نظـر لیـدو کـافر وم پـرون
کهٔ شیخ صاحب نن تابعدار دے څهٔ خبره نهٔ ده

د سـرو ګلونـو د سـپرلو پـه طمـع ژونـد تېـروم
نـن کـهٔ وطـن راتـه انګـار دے څـهٔ خبـره نـهٔ ده

څهٔ وائې؟ څهٔ غواړې د یو لحظې دیدن پـه بدل
د غني سر هم تـرې نـه ځار دے څـهٔ خبره نـهٔ ده

## د امېدونو ډېوه

زمـا د زړهٔ د امېـدونو یـوه تتـه ډېـوه
چې په تور تم کښې راله کار ئې د مشال راکوهٔ
نن ئې وروستۍ سلګۍ دي نوره هم لا تته شوله
هغـه ډېـوه چـې بـه مـدام پـرې نازېدلمـه زهٔ
څهٔ عجیبه ده چې هغـه هـم نـن بـې پتـه شـوله

دغـه زمـا د ارمـانونو ارزوګـانو اسـره
دغـه زمـا د ټـول ژونـدون د لېونتـوب قیصـه ده
مـا وې کـهٔ دغـه ډېـوه مړه شي هېڅ خبره نهٔ ده
ما وې د دې مرګ به څهٔ زېرے د ژوندون راوړي
مـا وې د دې د مـرګ خبـره بـې ضـرره نـهٔ ده

مـا وې چې هره ډېوه مړه شي نو سحر راولي
د تور تمونو بادشاهي ختمه کړي نُور پېدا کړي
ما وې د هرې ډېوې مرګ خو د سبا زېرے دے
ما وې د هرې ډېوې مرګ کښې زندګي وي زمونږ
ما وې د هر سپرلي راتلهٔ خو د اشنا زېرے وي

خـو مـې د زړهٔ د امېـدونو ډېـوه مـړه شـوله نـن
زمـا نیمګـړو ارمـانونو ټولـو سـاه ورکړلـه
پـه تورتمونـو او تیـارو ئـې هـېڅ اثـر ونـهٔ شـو
زهٔ د دې مرګ باندې خفه نهٔ یم خوشحاله یمه
خفـه پـه دې یـم پـه مـا زېـرے د سـحر ونـهٔ شـو